**د( ب) برخه: له زراعتي ماشين آلاتو څخه خوندي توب**
**دوهم لوست: د زراعتي ماشين آلاتو په وړاندي شخصي خوندي خوب او حفاظت**

**دزده کوونکو روزنيزي موخي:**
ددي لوست په پايله کي به زده کوونکي لاندي موخي او هدفونه ترلاسه کړی:

١. تشريح کړئ چی څرنګه کولای شو يو خوندی او محفوظه کاری چاپيريال را مينځ ته کړو.
٢. تشريح کړئ چی **د** خوندي توب رنګونه کوم دي او هر رنګ څه معني لري او چيرته کارول کيږي؟
٣. تشريح کړئ چی د خوندی توب او حفاظت مناسب شخصی کالی يا لباسونه څنګه غوره کيدای شی؟

**د لوست لپاره په پام کی نيول شوی وخت:** ١ساعت

ددی درسی پلان لپاره کمپيوټري پاورپاينټ پروګرام هم چمتو شوی دی.

**د سرچينو سپارښتنه:** لاندي سرچيني ددی لوست د تدريس لپاره ګټوري دی.


Cooper, ElmerL. Agricultural Mechanics Fundamentals & Applications. Albany, New York; Delmar Publishers, 1992 (Unit4)
Phipps, Lloyd j.,et al. Introduction to Agricultural Mechanics , Second Edition. Upper Saddle River, New Jersey : Prentice Hall Interstate 2004. (Textbook , Chapter 1)
Smith , john E. Safety in the shop. Urbana, lllinois: Vocational Agricultural Service.


**د سامان آلاتو، وسايلو او اړينو تجهيزاتو لسټ:**

سپنی پاڼي د ليکلو لپاره

پراجکټور

شفاف سلايډونه

پاور پاينټ سلايډونه

د لابراتوار د پانو کاپيګاني

**اصطلاحات:** پدی لوست کی لاندی اصطلاحات بيانيږی: ( دغه اصطلاحات په٢ شميره پاورپاينټ سلايډ کی هم ذکر شوي دي ):

- Decibel ډيسبل ( د غږ د شدت لوګارتمي واحد)
- Focal color
- Noise duration د غږ وخت او زمان.
- Noise intensity د غږ شدت او زياتوالي.

**د لوست لپاره په زړه پورې میتود او کړنلاره:**

له زده کوونکو څخه غوښتنه وکړئ که چیرې د دوی په مینځ کې داسې څوک موجود وي چې کوم وخت یې خپلوان یا ملګری په کومه فابریکه کې ټپي شوی وي، نو هغه زده کوونکی دی د ټولګي مخې ته راشي او کیسه دې ټولګیوالو ته بیان کړي. وروسته له زده کوونکو څخه پوښتنه وکړی چې دغه ژوبل شوی سړی څرنګه کولای شو دداسې حادثې مخکې لدې چې واقع شوی وای مخنیوی یې کړی وای.

**د لوست د محتویاتو لنډیز او د لوست استراتیژي**

**لومړی هدف:** دا تشریح کړئ چې څرنګه کولای شو یو خوندی او محفوظه کاری چاپیریال را مینځ ته کړو.
**د زده کوونکو په وسیله وړاند وینه:** مونږ څرنګه کولای شی یو خوندی کاری چاپیریال را مینځ ته کړو؟

1- په کوم چاپیریال او ماحول کې چې زراعتی ماشین آلات کار کوی ډیر په زړه پورې وي، خو ډیر خطرناکه هم وي. پدغه ماحول کې هره دنده ځانته ځانګړی ماشینونه او سامان آلات لری. کوم کسان چې په دغو محیطونو کې دندی ترسره کوی باید له خطرونو څخه ځان خبری کړی او د حادثې د مخنیوی لپاره د خوندی توب ځانګړی تدابیر په پام کې ونیسی.

په لاندی ډول د خوندی توب او محفوظیت اړوند مسایل بیان شویدی، یقیناً که هغه عملی شی او په پام کی ونیول شی، نو نه یواځې دا چې په کاری ځای کی به کارګرانو او ورکشاپ ته محفوظیت او مصؤنیت را مینځ ته شی، بلکی هغه کسان چې زمونږ کاری چاپیریال ته نژدی اوسیږی یا کار کوی هغوی به هم په امن کی شی،

**(۳ شمیره پاور پاینټ سلایډ)**

1. ټول بریښنایي وسایل باید په بریښنایي کود (شفر یا رمز) سره نصب شي.
2. د ټولو ماشین آلاتو نصبیدنه باید د تولیدونکیو د لارښوونو سره سم ترسره شي.
3. ټول ماشین آلات او وسایل باید د لارښوونو سره سم خوندي او محفوظ وساتل شي.
4. له وسایلو او لوازمو څخه باید په مسلکي او فنی توګه ګټه واخستل شي.

**(۴شمیره پاور پاینټ سلایډ)**

5. د موادو او توکو لکه تیل، کیمیاوي توکو او فاضله موادو د انبارولو او زیرمه کولو لپاره باید خوندي ځای چمتو شي
6. د کار چاپیریال له غوړونکو، چټلو او بي کاره موادو څخه پاک وساتئ.
7. د وسایل بریښنایي برخي او وسایل تل پوښلي وساتئ.
8. هغه ټول شرایط په پام کي ونیسئ چي د مایع توکو (موادو) د تویدو لامل ګرځي.

**(۵ شمیره پاور پاینټ سلایډ)**

9. هغو لارو چارو ته پاملرنه وکړی چې ماشینونه مواد لرې اچوي.
10. سترګي، مخ، غاښونه او د بدن نوري برخي د حفاظتي آلاتو او کالیو په کارولو مصؤنه وساتئ.

**(۶ شمیره پاور پاینټ سلایډ)**

11. د کار په چاپیریال کي ډیر په پاملرنه حرکت وکړئ، پدي توګه ځان او نور ملګري خوندي وساتئ!
12. د خوندي توب ټولي لارښووني ولولئ او هغه په پام کي ونیسئ.

**داسی یوه بیلګه بیان کړی چې پورتنی لارښوونی او هدایات په پام کی نه وی نیولی شوی زده کوونکو ته بیان کړی له زده کوونکو څخه غوښتنه وکړی تر څو هغه ټکی چې خوندی توب ته یی پاملرنه نده شوی هغه په ګوته او همدارنګه دداسی ستونځو د حل لاری وړاندی کړی.**

**دوهم هدف:** دا تشریح کړئ چی **د** خوندي توب رنګونه کوم دي او هر رنګ څه معني لري او چیرته کارول کیږي؟
**د زده کوونکو په وسیله وړاند وینه: د خوندی توب هر رنګ څه معنی لری او چیرته کارول کیږی؟**

**(۷ شمیره پاور پاینټ سلاید)**
ملی موسساتو په ګډه سره پدی اړه ډیر کار کړی تر څو داسی د خوندی توب رنګی شفرونه د تخنیکی ورکشاپونه لپاره دغه شفرونه ترتیب کړیدی. د امریکی د زراعتی انجنیرانو ټولنی او د امریکی د مسلکی ټولنو کمیټی په ګډه سره همدارنګه شفرونه چاپ او طبع کړیدی.ددغو موادو په انکشاف او چاپولو کی د امریکی د ملی معیارو انسټیټوټ لویه ونډه اخستی ده. پدغه اړه ددغه ملک د ټرانسپورت ریاست، په ملی کچه دروغتیا او خوندی توب قانون د ماخوذ په توګه کارول شویدی.
**(۸ شمیره پاور پاینټ سلاید)**
الف: د رنګونو له شفري (کود) سیستم څخه ددي لپاره کار اخستل کیږي چي:

1. تر څو خلک له موجوده یا احتمالي خطري څخه خبر شي.
2. تر څو له خلکو سره مرسته وشي چي هر شي پخپل مناسب ځاي کي ځاي پرځاي کړي.
3. د کار کولو په زړه پوري چاپیریال را مینځ ته شي.
4. په پاکوالي او نظم کي لا نوره پرمختیا رامینځ ته شي.
5. له خلکو سره مرسته کیږي، تر څو په بیړنیو او اضطراري حالاتو کي په چټکتیا سره رسیدنه وشي.

**ب:** هر ځانګړی رنګ یا ترکیب د رنګونو ځانته ځانګړی او مهم پیغام لری، زده کوونکی باید دغه پیغامونه په میخانیکی توګه حفظ او زده کړی. لاندی تشریحات دغه رنګونه ښه په ګوتو کوی چی له دغو حفاظتی رنګونو څخه په زراعت او کارخانو کی څنګه ګټه اخستل کیږی.

**(۹ شمیره پاور پاینټ سلاید)**
1- سور رنګ د خطرلرونکي چاپیریال یا وسایلو، بیړنیو حالاتو د پیژندني او درک لپاره کارول کیږي. لکه بریښنایي ستر او خطرناکه سویچونه او په آساني سره د احتراق وړ موادو لپاره. سور رنګ یعني خطره. (Danger )
**(۱۰ شمیره پاور پاینټ سلاید)**

2- **نارنجي رنګ د ماشین د روښانه کولو او دماشین څنګ (څنډي) ته د خبرداري لپاره کارول کیږي. نارنجي رنګ یعني خبرداریٔ (Warning) . نارنجي رنګ همدارنګه په بریښنایي سویچونو، درجه برابرونکو سویچونو او کنترولونکو سویچو کي هم کار اخستل کیږي.**

**(۱۱ او ۱۲ شمیره پاور پاینټ سلایډونه)**

**ژیړ رنګ** لکه د ټرافیکي څراغ د علامي په توګه د احتیاط معني لري. د ماشین آلاتو د پرزو لکه ویل، درجو، ټنبو او کیلیو د پیژندلو لپاره کارول کیږي. ژیړ رنګ له تورو کرښو سره یوځاي د فاصله موادو او خطرناکه موادو لپاره کارول کیږي. ژیړي او توري تراډي (کرښي) په ترکیبي توګه د زیني پټۍ (پته پایه) په نښه کوي، او نور ساکن خطرونه په نښه کوي.

**(۱۲ او ۱۳ شمیره پاور پاینټ سلایډونه)**
4 **آسماني رنګ** د خبرداري یا پاملرني د نښي لپاره کارول کیږي. دغه نښي او علامي له نظم څخه د بهر حالت معلومات ورکوي. یا د کړني ممانعت ښکاره کوي. پدي معني چي پام کوه له دغه شي که کار غوځیدلي! دلته فعالیت مه کوه! دغه ډول علامي او نښي په تور یا آسماني غولئ (شالید) کي په سپینو تکو (حرفونو) لیکل کیږي.
**(۱۴ شمیره پاور پاینټ سلاید)**

5 **حفاظتي شین رنګ،** هغه ځانګړي رنګ دي چي د وسایلو خوندي توب، محفوظه چاپیریال او لومړني روغتیایي آسانتیاوي ښکارندوي کوي. توره او ژیړه متقاطع کرښي لرونکي بڼه د تشعشعي ګواښونو موجودیت ښیي.
**(۱۵ شمیره پاور پاینټ سلاید)**
**سپین رنګ** په ټرافیکي علامو او نښو کي کارول کیږي، سپینه کرښه ټرافیکي لارښودنه کوي. سپیني کرښي همدارنګه د کارخانو په چاپیریال کي په موادو باندي د کار کولو معني ورکوي. د نریو لارو او سیمو د ښودني لپاره کیداي ژیړ رنګ د سپین رنګ پر ځاي وکارول شي توری او سپینی کرښی یو په بل پسی لکه د سترنجی غوندی له ټرافیکی نښو او علامو څخه عبارت ده یوه بیلګه یی دا ده چی کلی په موقتی توګه جاده د ټرافیک په وړاندی مسدوده شی نو همدغه علامه کارول کیږی.

**(۱۶ شمیره پاور پاینټ سلایډ)**

**خړ یا ایره یزه رنګ،** له دغه رنګ څخه په کارخانو کې د کاري طبقاتو او چاپیریال لپاره کارول کیږي، دغه رنګ د نورو رنګونو لپاره د ښه حالت او آسودګي ښکارندوي دي. خړ رنګ ددې لپاره کارول کیږي چې د ماشینونو د تنې ځایونه پرې رنګ شي او که چیرې دمیزونو په سر د رنګ اړتیا وي نو دغه رنګ کارول کیداي شي.

**پ:**

د تخنیکی ورکشاپونو لپاره د خوندی توب او محافظت منل شوی رنګونه عبارت له دریو مهمو او عمده رنګونو څخه دی. دغه رنګونه ددی لپاره کارول کیږی تر څو د خلکو پاملرنه سترو شیانو لکه ماشینونو، کابینونو او کاری ځایونو ته واړوی. دغه کانونی رنګ (focal colors) د خوندی رنګونو لپاره تباین او تقابل برابروی او د هغو خلکو لپاره چی په شاوخوا کی کار کوی په زړه پوری چاپیریال چمتو کوی. دغه کانونی رنګونه (focal colors) عبارت دی له:

1- رنگ عاج برا ی واضع ساختن و یا زیاد تر روشن ساختن قابلیت دید موارد مورد استفاده قرار میگیرد که در برگیرنده صندوقات لوازم ، حاشیه یا لبه میزها ، گیره ها و سندان ها به طور معلق میباشد.
2- سبز دورنما عبارت از سایه سبز مخصوص بوده که برای رنگ کردن بدنه ماشین ها ، اتاق ها ولوازم ضروری مانند گیره ها استفاده میشود منحیث یک رنگ آرام شناخته شده و همراه با رنگهای محفوظانه فرق دارد
3- آلمونیمی برای ظرف قابل دور ریختنی استفاده شده مانند چوب های دور ریختنی ، آهن های دورریختنی و یا مواد دیگر دورریختنی استفاده میشود

برای تکرار این هدف با بیانرنگها شاگردان مجبور به تکرار آن با صدای بلند و گفتن اینکه هر رنگ چه معنی را میدهد و هم چنان با تکمیل LS-2,1 و LS- 2,2 برای درجه بندی محفوظیت در کارخانه استفاده کنید.

1. عاج رنګ (Ivory) (سپین زیړرنګ ته ورته) دغه رنګ ددی لپاره کارول کیږی تر څو یو ځانګړی شی ښه روښانه یا یی د لیدلو وړتیا نوره هم ښیرازوالی پیدا کړی. دغه شیان عبارت دی له د صندقونو باندنی برخی، د میزونو څنډی، ګیرا او سندانونو.
2. شین له ورایه ښکاندونکی رنګ (Vista green) د شین رنګ یو ځانګړی سیوری دی. په دغه رنګ د ماشینونو باندنی برخی، کابینونه، ساکن او ولاړ وسایل لکه ګیراګانی رنګیږی. دغه رنګ ته د آرام رنګ په سترګه کتل کیږی او له خوندی رنګ سره مطابقت لری.
3. المونیمی رنګ (Aluminum) په بیکاره ایسته اوچوونکو لوښو لکه د لرګیو خالی صندوقه د فلزاتو بی کاره وسایل او زاړو شیانو باندی لګول کیږی.

**ددی لپاره چی پدغه موخه باندی بیا کتنه وشی، دیوه ځانګړی رنګ نوم واخلی او زده کوونکو ته دنده ورکړی تر څو پدغه رنګ باندی بحث او مناقشه وکړی. او په لوړ آواز ددی وواییی چی دغه رنګ د څه شی څخه نمایندګی کوی.په همدی توګه زده کوونکی بادی د لابراتوار پاڼی () بشپړه او پوره کړی تر څو د ورکشاپ د خوندی توب کچه ارزیابی شی.**

**دریم هدف:** دا تشریح کړئ چی د خوندی توب او حفاظت مناسب شخصی کالی یا لباسونه څنګه غوره کیدای شی؟
**د زده کوونکو په وسیله وړاند وینه:** د شخصی خوندی توب لپاره په ورکشاپ کی له کومو کالیو څخه ګټه اخستل کیدای شی؟

**(۱۷ او ۱۸ شمیره پاور پاینټ سلایډ ونه)**

شخصی خوندی توب په زراعتی ماشین آلاتو کی د کار د ترسره کولو لپاره ډیر ارزښت لری. ډیر داسی حفاظتی وسایل چمتو شوی تر څو په ورکشاپونو کی د کار کولو په وخت کی د خوندی توب لپاره ورڅخه ګټه واخستل شی. دغه وسایل هغه ګټور تمامیړی چی اشخاص او خلک ورڅخه په مناسبه او ښه طریقه ګټه واخلی. په عمومی توګه د خوندی توب څلور ستر وسایل دی، چی عبارت دی له:

1. **د سترګو ساتنه -** مخ او سترګی د انسان د وجود یا تن ډیری حیاتی او مهمی برخی دی چی باید ساتنه او محافظت یی وشی دا ځکه چی سترګی ډیر په آسانی سره ژوبلیدای شی هغه بځرکی چی په ورکشاپ کی الوزی د سترګو د رندیدو او حتی مرګ لامل کیدای شی. د سترګو د حفاظتی وسایلو کارونه د کار په ماهیت او ډول پوری اړه لری. شیشی عینکی او د ولډنګ عینکی د سترګو په ساتنه او محافظت کی ډیر اهمیت لری او دغه عینکی د سترګو د دفاع په لومړنی کرښه کی ځای لری. دغه سترګی ساتونکی عینکی باید ځانګړی مقاومتی لنزونه او د څنګ سپرونه ولری. دغه ډول عینکی باید د هر کار کوونکی د مخ له اندازی سره برابری او په پاک ساتلو کی یی باید ځانګړی پاملرنه وشی.

2. **له غږ څخه ساتنه-** داسې ډیر قوی وسایل په کرهنه او زراعت کی کارول کیږی چی لوړ غږ او غالمغال تولیدوی. غوږ ماغوګان یا د غوږونو خانګړی پلګونه کله چی د غږ کچه لوړیږی یا ډیر تکراریږی او یا دا چی غږ یوه ځانګړی حد ته رسیږی باید استعمال شی. د غالمغال مدت (***Noise duration***) دا معنی چی یو سړی څومره وخت او مدت د غږ په وړاندی قرار لری. ډیسبل (***dB***) د غږ معیاری واحد دی . د غالمغال د اوریدو په تاثیر کی وخت یو ډیر مهم فکټور یا عامل دی. غوږونه د ډیر کم وخت لپاره لوړ غږونه اوریدلای شی. که چیری د همدی غږ په وړاندی له غوږونو څخه د ډیر وخت لپاره کار واخستل شی نو هغوی ته ستره صدمه رسولای شی.

3. **ماسک او د ساکښنی وسیله -** هغه ماسکونه چی پزه او خوله پوښی د ګردونو او د رنګ د بخرکو په فلټر او تصفیه کی ډیر ارزښت لری او که څوک پدغسی مواردو کی کار کوی نو کارونه یی اړینه ده. د ګردونو په دوامداره توګه تنفس د لړمانه د توروالی او سرطان کیدو لامل ګرځی. ډیر ښه ماسکونه هم ډیر لګښت او مصرف نلری، کله چی دوړی او خاوری بادیږی، د رنګ، ولډنګ، د خاوری د مخلوط کولو، د درمن بادولو او داسی نورو مواردو کی باید له هغوی څخه ګټه واخستل شی.

4. **حافظتی لباسونه یا کالي--** د حفاظتی کالیو ډول او اندازه پدی پوره اړه لری چی شخص څه ډول کار کی مشغول دی، پدی معنی چی ددغو حفاظتی کالیو کارونه د کار په ماهیت او ډول پوری نیغ تړاو لری. ښه او مانسب حفاظتی کالی هغه دی چی د هر کارګر په ځان باندی پوره وی، لستونی، غیر ضروری زینتی برخی او بندونه ونلری . دغه کالی باید ژندی او زړی نه وی ځکه دغه ډول کالی په آسانی سره سوځی او د ماشیونو په وسیله سره نیول کیږی. وینښته باید له وسایلو او ماشینونو سره د کار په وخت کی پټ شی او یا هم وینښته وخریل شی. پاک لباسونه د غوړو او خیرنو کالیو په پرتله د اور اخستنی په وړاندی مقاومت لری.

   a. په عمومی ورکشاپونو کی حفاظتی کالی یا لباسونه ـــ ددی سره سره چی باید هر وخت د خوندی توب عینکی په ورکشاپ کی وکارول شی، پیش بند، د ورکشاپ کوټ،یا پوره او بشپړه کالی په ورکشاپ کی د کار کولو ډیر ښه آرایش او سینګار شمیرل بلل کیږی.
   b. د ولډنګ په ورکشاپ کی د خوندی توب کالی یا لباس ـــ پدغه ډول ورکشاپونه کی باید داسی کالی واغوستل شی کوم چی په آسانی سره اور نه اخلی. هغه لاس ماغوږګان باید وکارول شی چی له سوځیدنی څخه مخ نیوی کولای شی. داسی مناسب بوټان چی څوکی یی اوسپنیزه وی باید په پښو شی تر له سکروټو او د اور له بخرکو څخه د پښو ساتنه او خوندی توب تضمین کړی.

**ددی لپاره په بحث کی مرسته او کومک شوی وی نو له TM: 2-1 څخه ګټه واخلئ او هغه شیان چی په TM: 2-1 کی ښودل شویدی هغه زده کوونکو ته وربښکاره کړی او زده کوونکو څخه پوښتنه وکړی دهر یوه شی موخه او هدف شی ده.**

**بیاکتنه او لنډیز:** ددي لپاره چي دلوست لنډيز او بيا کتنه ترسره شي، د زده کوونکو له روزنيزو موخو او هدفونو څخه استفاده وکړئ. له زده کوونکو څخه غوښتنه وکړئ تر څو په هره موخه پوري اړوند محتويات تشريح او څرگند کړي. د زده کوونکو ځوابوه او څرگندوني به دا په ګوته کړي چي کوم هدف او موخه د بيا کتني لپاره اړتيا لري يا هم له بل تدريسي ميتود څخه استفاده وشي. له خپلو مشاهداتو او کتنو څخه د هغو ځايونو او مواردو په نښه کولو کي استفاده وکړئ کوم چي د زده کوونکو د مهارتونو د سمون او ښه والي اړتيا ورته بريښي. ځيني پوښتني په (۱۹ شميره پاورپاينټ سلايډ کي هم شته چي پدي اړه مرسته کولاي شي).

**تطبيق او عملی کول:** د لابراتوار پاڼی ( LS – 2-1 2-2 ) بشپړه او تکميل کړئ.

**ارزونه:** ارزونه بايد د زده کوونکو د هغه درک او فهم پر اساس ترسره شی چی زده کوونکو ددغه لوست له روزنيزو موخو څخه ترلاسه کړی دی، بيلابيل تخنيکونه او ميتودونه موجود دی چی د ارزونی لپاره ورڅخه ګټه اخستل کيدای شی.

**بیلګیزه  ازموینی ته ځوابونه**

**لومړی برخه:برابرول (مطابقت ورکول)**

1. E
2. A
3. H
4. C
5. F
6. B
7. G
8. D

**خالی ځایونه په مناسبو کلمو ډکه کړئ:**

1- حداقل
2- ماسکونه

**لنډ ځواب**

ددی برخی لپاره د لوست لومړی هدف ته مراجعه وشی.

**بیلګیزه ازموینه**

د زراعتي ماشین آلاتو په وړاندي شخصي خوندي خوب او حفاظت

**نوم:** ___________________

A – دسیبل
D – د غږ شدت او غالمغال
G – زیږ
B – د رنګونو شفر
E – سور
H –آسمانی
C – د غږ جریان
F – نارنجی

____________1 خطر

____________2 د غږ معیاری واحد

____________3- معلومات

____________4-  د وخت هغه مدت چې یو سړی د غږ په وړاندی قرار لری.

____________5- خبرداری

____________6 ددی لپاره کارول کیږی تر څو سترو شیانو لکه ماشین، کابین او کاری ځای ته پاملرنه واړول شی.

____________7- احتیاط

____________8 د غږ د څپو او امواجو انرژی ته اشاره کوی.

**لاندي خالي ځایونه په مناسبو جملو باندي ډکي کړي.**

۱. د خوندی توب او ولډنګ عینکی ___________ سترګی خوندی ساتی.

۲. ______________ پزه او خوله پوښی او ددی لپاره ورته اړتیا ده تر څو د ګردونو او رنګونو بخرکی فلتر او تصفیه کړی۲

**لنډ ځواب:** لاندی پوښتنو ته ځواب برابر کړئ.

د خوندی توب هغه پنځه پاملرنی لسټ کړئ چی د تخنیکی ورکشاپ د محفوظیت لپاره کارول کیدای شی.

**د شخصی خوندی توب او محافظت لپاره محافظوی کالی او وسایل**

| | |
|---|---|
| پروګرام------------------------------------------- | استاد--------------------------------------- |



د مخ سپر



غوږ ماغوګان



حفاظتي عينكي چي د څنګ او ورځو سپرونه لري



چرمي لاس ماغوګان، حفاظتي کالي او د ولډنګ سپر

| هغه وسایل چې د ورکشاپ لپاره اړین دي | تاریخ | د کارولو لپاره شرایط<br>خوندی | غیر خوندی | تبصره او نظریه | د زده کوونکی امضا |
|---|---|---|---|---|---|
| 1. د اور وژلو آله | | | | | |
| 2. د لومړنیو مرستو کیټ | | | | | |
| 3. د کارخانې عمومي پاکوالی | | | | | |
| 4. د بیړنی حالت لپاره راه | | | | | |
| 5. د خوندی توب علامې او نښې | | | | | |
| 6. خروجي سیستم | | | | | |
| 7. خوندی کړښې | | | | | |
| 8. څټکان | | | | | |
| 9. قلم های درز ایجاد کن ومنګنه | | | | | |
| 10. هغه لوزام چې تیرې څوکې لرې- | | | | | |
| 11. د لاس نور وسایل | | | | | |
| 12. لوېر | | | | | |
| 13. هایډولیکي جک | | | | | |
| 14. څرخې انتقال کیدونکی اره | | | | | |
| 15. د میزه اره له سر میزې سره | | | | | |
| 16. د اری قبضه | | | | | |
| 17. د اری پلونه | | | | | |
| 18. متصلې اری | | | | | |
| 19. د اوسپنې قطع کوونکی اری | | | | | |
| 20. لاسی اره | | | | | |
| 21. روټر | | | | | |
| 22. رنده | | | | | |
| 23. ریګ پاش دهنده برقی | | | | | |
| 24. اسباب تیز کننده | | | | | |
| 25. بیلو (تیره کوونکی) | | | | | |
| 26. برقی برمه | | | | | |
| 27. د برقی برمې پوښ | | | | | |
| 28. د ولډنګ کاری اوسپنیزه پوښ | | | | | |
| 29. د جوش کونکی ګاز چې حرکت نکوی | | | | | |
| 30. د ولډنګ اکسیجن | | | | | |

LS: ۱-۲

د تخنیکی ورکشاپ د خوندی توب او محفوظیت چک لسټ

**د زده کوونکو د تخنیکی ورکشاپ د خوندی توب او محفوظیت چک لسټ**

**د زده کوونکی نوم------------------------------** **پروګرام----------------------------------**

| ور کشاپ لپاره د خوندی توب وسایل | | | تبصره او نظریه | د زده کوونکی د نوم لومړی حرف یا ټکی | د ښوونکی دنوم لومړی حرف یا ټکی |
|---|---|---|---|---|---|
| 1. د خوندی توب عمومی لایحه | | | | | |
| 2. د لومړنیو مرستو کیټ | | | | | |
| 3. د کارخانی عمومی پاکوالی | | | | | |
| 4. د بیرنی حالت لپاره راه | | | | | |
| 5. د خوندی توب علامی او نښی | | | | | |
| 6. خروجی سیسټم | | | | | |
| 7. خوندی کرښي | | | | | |
| 8. څټکان | | | | | |
| 9. قلم های درز ایجاد کن ومنګنه | | | | | |
| 10. هغه لوزام چی تیری څوکی لری- | | | | | |
| 11. د لاس نور وسایل | | | | | |
| 12. لوډر | | | | | |
| 13. هایدولیکی جک | | | | | |
| 14. څرخی انتقال کیدونکی اره | | | | | |
| 15. د میزه اره له سر میزی سره | | | | | |
| 16. د اری قبضه | | | | | |
| 17. د اری پلونه | | | | | |
| 18. متصلی اری | | | | | |
| 19. د اوسپنی قطع کوونکی اری | | | | | |
| 20. لاسی اره | | | | | |
| 21. روټر | | | | | |
| 22. رنده | | | | | |
| 23. ریګ پاش دهنده برقی | | | | | |
| 24. اسباب تیز کننده | | | | | |
| 25. بیلو (تیره کوونکی) | | | | | |
| 26. د اور وژلو آله | | | | | |
| 27. د لومړنیو مرستو کیټ | | | | | |
| 28. د کارخانی عمومی پاکوالی | | | | | |
| 29. د بیرنی حالت لپاره راه | | | | | |
| 30. د خوندی توب علامی او نښی | | | | | |
| 31. خروجی سیسټم | | | | | |
| 32. خوندی کرښي | | | | | |
| 33. څټکان | | | | | |
| 34. قلم های درز ایجاد کن ومنګنه | | | | | |
| 35. هغه لوزام چی تیری څوکی لری- | | | | | |
| 36. د لاس نور وسایل | | | | | |
| 37. لوډر | | | | | |
| 38. هایډولیکی جک | | | | | |